د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ښاغلی محمد منیر منګل، د کورنیو چارو وزارت امنیتی مرستیال**

**ښاغلی کرستوفر الکساندر، د ملګرو ملتونو د خانګړی استازی مرستیال**

**ښاغلی عبدالعزیز احمدزی د ډایاګ د ګډی دارالانشا مشر او**

**آغلی نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر ښځه**

*کابل- د جون د میاشتی دوهمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** آغلو او ښاغلو سهار مو نیکمرغه، زه نیلاب مبارز د یوناما د ویاندوی له دفتر څخه یم، تاسو ته ښه راغلاست ووایم دا کنفرانس د کورنیو چارو وزارت د افغانستان د نوي پیل د پروګرام او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) په همکاری په افغانستان کې د ۳۰۰ غیر قانوني وسله والو ډلو د انحلال په مناسبت جوړ شوی دی. نن دلته موږ سره محمد منیر منګل د کورنیو چارو د وزارت امنیتي مرسیتال، کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګر ملتونو د ځانګړی استازی مرستیال د غیر قانوني وسله والو ډلو د انحلال د پروګرام د کډي دار الانشاء رئیس عزیز احمدزی یو ځای دي. تر هر څه وړاندې به د نن ورځي ویناوال لنډ معلومات ورکړي او وروسته به په خوښی سره ستاسي پوښتني ته ځواب ووایو.

**لوی پاسوال محمد منیر منګل د کورنیو چارو د وزارت مرستیال:** د لوی خدای په نامه، ډایاک د افغانستان د حکومت لپاره یو ډیر مهم پروګرام دی، چې د هغه د لاري د قانون حاکمیت، اداره، او په هیواد کې قانونیت او ټیکاو ښه کیږي. دغه پروګرام په کال ۱۳۸۴ (جولای ۲۰۰۵) کې په ۳۴ ولایتونو کې پیل شو. موږ د نړیوالي ټولني، یوناما، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام او د افغانستان د نوي پیل د پروګرام څخه مننه کوو چې په دې لاره کې د افغانستان د حکومت ملاتړ کوي.
د ډایاک پروګرام د کورنیو چارو د وزارت له خوا رهبري کیږي. د کورنیو چارو د وزارت په تشکیل کې یو نوی اداري واحد جوړ شوی دی چې دنده یې د ټولو وسلو ثبت او راجستر، د ډایاک د پروګرام پلي کول او د خصوصي شرکتونو راجستریشن دی. موږ همدارنګه د ملي دفاع د وزارت څخه په دې برخه کې مننه کوو.

**کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی مرستیال:** ډیره مننه، سهار مو نیکمرغه، دې بحث ته ښه راغلاست. ډایاک د افغانستان د بې وسلې کولو د مخکښو پروګرامونو له جملې څخه دی. دا د افغانستان په ترون کې یو له کلیدی شاخصونو څخه دی، دا د افغانستان د حکومت لپاره لومړیتوب لري او د دې سره د نړیوالي ټولني ټینګ ملاتړ هم شته. دلته غواړو چې تاسو ته د دې رپوټ درکړو چې دا پروګرام په دې هیواد کې په ډیري ناوړه خطرناکي پدیدي باندې د غلبې لپاره یو پیل و.
د ډایاک پروګرام پای ته نه دی رسیدلی او حتی پوره تطبیق ته نږدې هم نه دی. د دې لپاره سخت کار ترسره کول لا هم پاتي دي. خو د ډایاک بهیر ډیر مهم دی ځکه چې د بې وسلې کولو او د غیر قانوني وسله والو ډلو د له منځه وړلو پرته په دې هیواد کې او یا کوم بل هیواد کې سوله نه شي ټینګیدلای.
د ۳۱۲ ډلو انحلال یو مهم پرمختګ دی. دا د ټولنو د پامه نه غورځیدونکی هیلې، د هغوي د ژمنې ښکارندی وه ده چې غواړي خپل ځانونه، خپلې کوڅې، خپل پټي، کورونه د هغې ویرې او ویجاړتیا څخه وژغوري چې د غیر قانوني ډلو د موجودیت په صورت کې رامنځته کیږي. نږدې ۴۰۰۰۰ درنې او سپکې وسلې د دغه پروګرام د لاري راټولې شوي دي، او د دې ډیري یې پر داسې مهال ده چې په افغانستان کې دولتي ضد عناصرو او شورشیانو فعالیت ډیر شوی دی. دا د دې څرګندونه کوي چې وګړي دې ته اړ دي او همدا غواړي. هغوي غواړي چې د دولت اعتبار او واک زیات وي، هغوي د ځان، د خپل ټولنو او کورنیو لپاره سوله غواړي.

ټولنې به ځان په امن کې احساس نه کړي او د ډاياګ په ګټه به پوه نه شي مګر دا چې پراختيا تر هغې اندازې زياته د هغوې په برخه شي چې موږه نن ليدلي ده. هر څه چې نه يې دا زموږ د لومړيتوبونو څخه ده چې کوښښ کوو تر لاسه يې کړو او د پاريس په کنفرانس کې چې په ۱۰ ورځو کې پيل کيږي هغه په ګوته کړو: څرنګه کيدای شي پراختيا په لوړ کچ په برابره توګه د افغانستان په ټولو برخو کې سرته ورسيږي؟ ډاياګ د دغه پراختيا يوه برخه ده. په هر يوې ۳۱ ولسواليو کې چې د ډاياګ د خصوصياتو سره يې عمل کړی دی پراختيايي پروژې يا پلان شوي دي او يا تر کار لاندې نيول شوي دي. نن ورځ موږ په افغانستان کې هڅه کوو چې ډياګ په ۷۱ ولسواليو کې په بشپړه توګه پلی کړو چې دا د هيواد د ټولو ولسواليو ۲۰ سلنه ده. ډاياګ به يوازې هغه وخت د يو پياوړی دولت تر مشرتابه لاندې کامياب شي چې د ټولنو او عادي خلکو غوښتنو ته د غبرګون هڅه کوي. د ولسمشر دوهم مرستيال ښاغلی خليلی او ښاغلی ستانکزی (د ولسمشر سلاکار او دبې وسلې کولو او بيا يو ځای کولو کميسيون مرستيال مشر) نن د موږ سره نه شته خو هغوې د نن ورځې د کاميابی لپاره د زيات کريډيټ وړ دي او تاسو ټولو ولسمشر کرزی په تيرو کلونو کې په منظمه توګه ليدلی دی چې د ډاياګ په پلوی خبرې کوي، خپل وزيرانو سره خبرې کوي او کله کله نړيوالې ټولنې سره چې د ډاياګ په اغيزمن پلی کيدو باندې فشار زيات کړي.

خو ډاياګ په بنسټيزه توګه يو داسې پروګرام دی چې کوښښ کوي د روا او مشروع واک لپاره ځای پيدا کړي: په ځايی کچه باندی د ملکي ادارې او د پوليسو واک او دا له همدې کبله چې موږ د کورنيو چارو د زورات تر مشرتابه لاندې د ډاياګ بشپړ پلی کول تعقيب وو او زما لپاره د خوشحالی وړ ده چې نن ورځ په دې کنفرانس کې د مرستيال وزير منګل سره په دغه کنفرانس کی دلته يم.

د ډاياګ ننګونه کومه اسانه خبره نه ده. موږ ټول په دې موافقه لرو چې د دې لپاره چې يو شمير خورا پياوړې نا قانونه ډلې حساب ورکولو ته حاضرې کړو موږ به يوازې د خپلې خوښې مراعاتولو ته اړ نه يو، بلکې د اعمالو جاري کولو ته. موږ يو شمير دغه فعاليتونه مثلا د هرات، بادغيس او ننګرهار په ولايتونو او د کابل په شاوخوا ځينو سيمو کې ليدلي دي مګر موږ غواړو چې نور هم و وينو.

دولت هم دنده لري چې د دې اطمينان ورکړي چې خپلې اداري يې او د دغو ادارو مسولين خپله دغو ناقانونه ډلو سره رابطه نه لري. موږ به دا و ارزو چې د دولت د مسولينو شمير چې له نا قانونه ډلو سره اړيکه لري تر ۲ يا ۳ کلونو پخوا را کم شوي خو نور کار لا هم پاتې دی. اوسنی د ټول ټاکنو د پروسې اوسنی قانون په افغانستان کې دا غواړي هغه کسان چې پارلمان، ولايتي شوراګانو او يا ولسمشرۍ ته ځانونو کانديد کړي بايد د نا قانونه وسله والو ډلو سره اړيکې و نه لري. دا به هم د ډاياګ د عمومي هڅې د پلی کولو لپاره يو مشکل خو مهم قدم وي.

دغه ټکی ته په ګډو هڅو او پياوړی عامه پاملرنې سره موږ دا ښودلې ده چې موږ کولای شو پرمختګ وکړو. موږ د کورنيو چارو د وزارت، د افغاستنان د دولت او د تاسو ټولو سره کار کولو ته په هيله مندی سره ګورو چې دا يقينی کړو چې دغه پروګرام چټک کيږي او دوام مومي.

**د ډیاګ پروګرام د ګډې دار الانشاء رئیس عزیز احمدزی:** ډیره مننه، لکه چي تاسو پوهیږي د ډیاګ ګډه دار الانشاء د بې وسلې کولو او بیا یو ځای کولو کمیسیون سره مرسته کوي، چي هغه د مرستیال ولسمشر خلیلی له خوا یې مشرتابه کیږي.

د افغانستان دولت د ډیاګ د پروسي بشپړه پلي کیدلو ته ژمن دی. او هوډمن دي چي ټولي ناقانونه وسله والی ډلي په افغانستان کي له منځه یوسي.

لکه چي مرستیال ځانګړی استازی وویل، ډیاګ یوازي دا نه دی چي نا قانونه وسله والي ډلي منحل کړای شي، بلکي د هغو پرمختیایي پروګرامونو په واسطه بشپړ کیږي چي هغه به د افغانستان په هر ګوټ کي د قانون د واکمنی په پیاوړتیا کي مرسته وکړي.

## پوښتنو او ځوابونو برخه:

**بی بی سی:** زه دوه پوښتني لرم. لومړۍ یې له ښاغلی منګل څخه ده. آیا تاسو د نا قانونو وسله والو ډلو په هکله کومي شمیرې لرئ، رپوټونه وایي چي هیواد ته وسلي را رواني دي. د دغه قاچاق په صورت کي څنګه امکان لري چي ډیاګ پروسه اغیزمنه واقع شي. زما بله پوښتنه له ښاغلی الکساندر څخه ده، تاسو وویل چي دوه یا دري کاله وړاندې یو شمیر افغاني چارواکو د نا قانونه وسله والو ډلو سره تړاو درلود، آیا دا په دې مانا ده چي دا ډول چارواکي د ناقانونه وسله والو ډلو سره تړاو لري؟

**لوی پاسوال منګل:** زموږ د رپوټونو مطابق د اتلس سوه څخه نیولی تر دوه زره نا قانونه ډلي د هیواد په کچه شته. د وسلو قاچاق په رښتیا سره د هیواد ثبات او امنیت له ګواښ سره مخامخ کوي. په دې هکله موږ خپل تدبیرونه لرو، چي د دې مخنیوی وکړو. د افغانستان د حکومت موخه د ډیاګ د پروسي بشپړ پلی کول دي. په ولایتي کچه د والی او په مرکزی کچه د ډیاګ د کمیسیون او د ډیاګ د سکرتریت په ملاتړ او مشر یې د ولسمشر د مرستیال خلیلی له خوا ترسره کیږي. د سرتاسري امنیت او ثبات د ګواښونو په حواله چي د هیواد د باندې څخه ترسره کیږي، هغه د هغو ډلو له خوا څخه ترسره کیږي چي د افغانستان د حکومت په وړاندې په جګړه بوخت دي. تاسو د هغو اډې او مرکزونو په هکله معلومات لري. دا خپلي اغیزې د هغو سیمو په امنیت او ثبات لري. د ناقانونه وسله والو ډلو د شمیر په هکله ارزونه لا هم دوام لري، موږ غواړو دا پروسه لا هم دقیقه وي.

**کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی مرستیال:** په یقین سره چي لا هم دولتي چارواکي له ناقانونه وسله والو ډلو سره تړاو لري او هیڅوک هم له دې څخه انکار نه شي کولای. زموږ د پروګرام لاندې احصائی ښایي چي تر اوسه داسي ۷۲ چارواکي شته، او هغوي دوه لاري لري: یا هغوي باید هغو پوځي ډلي منحل او له منځه یوسي له کومو سره چي دوي تړاو لري او یا هغوي باید له حکومت څخه لرې کړای شي. له ۷۲ کسانو له جملې څخه چي د دی پروګرام په موخه کي نیول شوي یوازې ۲۸ کسانو نه ده منلی، ډیری کسانو دا منلي او یا منحل شوي. د ولسی جرګې یو شمیر غړي د ناقانونه پوځي ډلو سره تړاو لري، احتمال لري چي ورته کي د مشرانو په جرګه کي هم موجود وي، چي د ناقانونه وسله والو

ډلو سره تړاو لري، خو زیاتره ډلې د حکومت د چوکاټ څخه د باندې دي. زیاتره یې پخواني چارواکي دي. داسې ښکاري چې په دې لاره کې پرمختګ شوی. خو حکومت باید د پاتې ډلو د منحل کولو په چاروکې غښتلي وي. موږ پوهیږو چې دا کار څومره ستونزمن وو او څومره به نور ستونزمن وي.

**آل انډیا راډیو:** ایا تاسې د افغانستان د حکومت د ارزونې په اړه چې څومره وسلې دلته دي څه ویلای شئ؟ زما پوښتنه ښاغلی کرستوفر الکساندر ته متوجه ده چې تاسو وویل رضا کارانه پړاو پای ته رسیدلی دی او اوس د اړ باسلو او په زور سره د عملي کولو وخت دی، له دې څخه ستاسو څه هدف دی؟

**لوی پاسوال منګل:** د ناقانونه وسله والو ډلو شمیره چې ما تاسو ته درکړه له دې ځیرنې څخه څرګندیږي چې موږ ترسره کړي ده او دا شمیره به هغه سمه او کره وي چې دغه ځیرنه پای ته ورسوو. کره او سمه شمیرنه به خپره شي. هغه شمیر وسلي چې حکومت ته لا تر اوسه نه دي سپارل شوي لا هم څه کار ته اړتیا لري او د وخت په تیریدو سره به هغوي هم پاکې شي. موږ تاسو ته سم او کره معلومات هغه وخت در کولای شو. کله چې واقعي ارقام ولرو. په تیرو دوو میاشتو کې ۹۰۰ وسلې د ډاياک د پروسې په ترڅ کې راټولې شوي او دغه سمه او کره شمیره ده.

**کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی مرستیال:** ښکاره ده چې اړ باسل او په زور عملي کول یو مسولیت دی او دا په زیاته کچه د حکومت پالیسي ده. په خپله خوښه د دې کار ترسره کول د دې پروګرام لپاره همیشه یوه اغیزمنه ستراتیژي ده، خو د دې لپاره چې عامو ناقانونه وسله والو ډلو ته په دې پروګرام کې د ګډون لپاره هڅوني وشي موږ دې ته اړ یو چې دا څرګنده کړو چې ډیرې جدي نا قانونه وسله واله ډلې هم د پروګرام تابع دي. د بیلګې په ډول په دې وروستیو میاشتو کې د امنیتي وضعې له امله د کورنیو چارو وزارت او همکارانو یې ډیر وخت د هرات په ولایت کې تیر کړل او د ملي امنیت د ریاست سره یې یو ځای هغوی ګډ عملیات د نا قانونه وسله والو ډلو په ضد ترسره کړل، چې هغوي د وګړو په تښتونه او نورو غیر قانوني فعالیتونو کې شریکې وي او د هرات په ولایت کې یې سوله له ګواښ سره مخ کوله. د دغو بریاو په نتیجه کې چې د ځینو عملیاتو په ترڅ کې تر لاسه شول نو په وروستیو۴- ۶ اونیو کې د دغو پروګرامونو سره د یو ځای کیدو ډیرې قضیې وي چې یو مشخصه قضیې د ګذاره په ولسوالی کې وه چې د ټولنو تر منځ یې د اوږدې مودې ستونزه پای ته ورسوله. په دې وروستیو کلونو کې موږ ولیدل چې د حکومت امنیتي ځواکونه د ناقانونه وسله والو ډلو سره په ځینو ولسوالیو کې ځنګ تر ځنګ اوسیږي اوس موږ د حکومت ارادې، ځواکمنۍ او ظرفیت ته ګورو چې د دغو ډلو زور او واک تر ننګوني لاندې را ولي او خپل واک هلته وچلوي. تاسو د غزني په ولایت کې لانجي ته وګورئ چې د طالبانو پرته د کوچیانو او هزراګانو تر منځ د څړ ځای په اړه په هزره جاتو کې او د هیواد په نورو برخو کې اوږدې ریښې درلودلې. دلته په دواړو خواوو کې نا قانونه وسله والي ډلې فعاله وي، آیا حکومت د دې مسولیت درلودو چې قانون پلی او د لانجي مخه ونیسي. څرګنده ده چې هو. همدغه واقعیتونه د هیواد په ډیرو نورو برخو کې شته.

**پژواک:** آیا ستاسو په نظر د ناقانونه وسله والو ډلو او د القاعدې او طالبانو تر منځ تړاو شته؟

**لوی پاسوال منګل:** هغه څه چې واقعا زموږ لپاره مهم دی هغه دا دی چې کومه نا امنی چې د نـا قانونـه وسـله والو ډلو او یا د مخالفینو له خوا منځ ته راځي یو ښه شی نه دی. اړ یو د دې اطمنان ورکړو چې ثبات ساتو او دا زموږ لپاره مهمه ده چې د ناقانونه وسله والو ډلو او القاعده او طالبـانو تـر منـځ اړیکـې و وینـو. دا بـه یـو څـه وخت ونیسي چې دغه اړیکې وڅیړل شي. څه چې زموږ لپاره مهم دی هغه دا دی، چې هر څوک چې د امنیت لپاره یو ګواښ وي باید هرو مرو عدالت ته راښکل شي.
نا قانونه ډلې زیاتره په نشه یي توکو او ځینو نور جرمونو بوخت دي. لاکن د مخدراتو قاچاق د دولت ضد ډلو لپاره د مالي ملاتړ یوه برخه جوړوی. د دې لپاره چې ډاپاګ پلی شي د افغانستان د امنیت ټولو ارګانونو په بیلا بیلو بڼو اړخونو کې کار پیل کړی دی. د مثال پـه توګـه د ولسوالیو پراخیتـایي پـروژې، چـې د پولیسو مسلکي کولو ته یي د دغې هڅې د یوې هڅې په توګه متوجه دی.

**نورین تلویزیون:** هغه دولتي چاروا کي چې د ناقانونه وسله والو ډلو سره تړاو لري، آیا تاسو فکر کوئ چې د هغوی وسله وال کسان د پولیسو په د ننه کې ننوتي دي. آیا دا ستاسو لپاره ممکنه ده چـې د هیـواد پـه کچـه د ۱۸ سوه تر ۲ زرو ناقانونه وسله والو ډلو له جملې څخـه د هغـو جدي ډلو نومونـه واخلـئ چـې مـوږ وکـولای شـو د هغوي نومونه د ډله ییزه رسنیو لـه لارې اعلان کړو. زمـا بلـه پوښتنه لـه ښـاغلي الکساندر څخـه د ۲۸ دولتـي چاروا کو په هکله ده چې د نا قانونه پوځې ډلو سره تړاو لـري، هغـوي د ډاپـاګ پروسـې تـه غـاړه نـه ږدي مـوږ کولي شو د هغوي نومونو د ډله ییزه رسنیو له لارې خپره کړو.

**لوی پاسوال منګل:** زه به ستاسو لومړی پوښتني ځواب و وایم، هغه کسان چـې د ناقانونـه وسـله والـو ډلـو سـره تـړاو لـري د پولیسو او پـوځ پـه منـځ کـې شـته کـه نـه؟ زه باید یادونـه وکـړم چـې مـوږ خپل امنیتـي ځواکونـه د مسلکیتوب خوا ته خوځوو. افغان ملي پولیس او پوځ په هیڅـا، ډلـې یـا قومانـدان پـورې اړه نـه لـري. لکـه څنګـه چې ښاغلي الکساندر وویل کیدای شي د خصوصـي امنیتـي کمپنیـو او ناقانونـه دولتـي ډلـو تـر منـځ ځینـي اړیکـې موجودې وي. موږ د دغو امنیتي کمپینو په اړه پلټني پیل کړی مـوږ بـه پـه ډیـر نـږدې وخـت کـې د دغـو کمپنیـو نومونه چې په هیواد کې بوختي دي اعلان کړو. پـه دې کـار سـره بـه مـوږ وکـولای شـو خـصوصـي کمپنیوتـه د نورو ناقانونه وسله والـو ډلـو د ننوتـو مخنیوی وکـړو. ستاسـو د پوښـتني د بلـې برخـې پـه اړه بایـد و وایـم ، لکـه څنګه چې ما د مخه وویل زموږ ارزونې رواني دي او موږ په دې اړه کار کوو، مـوږ ژمـن یـو چـې دغـه لـویې ډلې به هم د کوچنیو ډلو په څیر منحل کړو.

**کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د خانګړی استازی مرستیال:** زه فکر کوم چې تاسو تـه نومونه ښه معلوم دي. د حکومت یو شمیر چاروا کي یا پخوانـي غـړي ښـایي اوس هـم د ناقانونـه وسـله والـو ډلـو سره تړاو ولري، د داسې ډلو شیمر زیات دی، زه فکر نه کوم چې موږ دې نن خپلې خبرې د دغه لست پـه سـر بل لوری ته بوځو، باید و وایو چې هغوي نن ورځ له موږ سره نه شته او له دې املـه مـوږ یـوه ښـه ناسـته لـرو،

خو باید په هیواد کې د سرتاسری جریان په هکله هم روښانه موقف ولرو. موږ د جنرال سره موافقه لرو چې په دې اړه زموږ په ډیټابس کې یو لوی لست موجود دی، خو موږ فکر کوو چې د فعالو ډلو شمیر له دې شمیر څخه ښکته دی، دا یو ارزانه او ساده کار نه دی، د یوې نا قانونه وسله والې ډلې پر مخ وړل اسانه کار نه دی، زموږ د ښکیلتیا څخه پرته ډیری ډلې د سوداګرۍ څخه لاس په سر شوي دي. خو هغوي په دې پوهیږي چې حکومت څواکمن دی یا هغوي ګوري چې له هغوي څخه غټې نا قانونه ډلې هم شته. د وزیر مرستیال سم وایي، چې قوي او خطرناکې ډلې هغه دي چې د یاغیتوب، ترهګرۍ او د نشه یی توکو د سوداګرۍ سره تړاو لري. په هغوي باندې د ډاياګ د پروسې پلی کول ځانګړو هڅو او پاملرنې ته اړتیا لري. او تاسو په دې ښه پوهیږئ خو د هیواد او ټولنې هغه برخې چې د نشه یی توکو د قاچاق، القاعدې او طالبانو سره تړاو نه لري. نا د ناقانونه وسله والو ډلو څخه ځان لیرې کوي. د ترهګرۍ د فعالیتونو د ساحې څخه د باندې، موږ کومې نوی وسله والې ډلې نه وینو او موږ پوهیږو چې د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو لپاره دغه ډول نوې ډلې له کومه ځایه راځي. موږ ټول په دې وروستیو کې په دې هکله تر هروخت ډیري خبرې کوو. او موږ باید په دې هکله خبرو ته دوام ورکړو.

**طلوع تلویزیون:** آیا ویلای شئ چې په ځانګړی توګه د هیواد په کومه برخه کې دغه نا قانونه وسله واله ډلې فعالیت کوي؟ د پوښتنې دوهمه برخه له ښاغلي کرستوفر څخه کوم. تاسې و ویل چې د ډاياګ پلی کول د دولت تصمیم ده، خو آیا په دې فکر نه کوئ چې دغه میلان به د امنیت وضعه خرابه کړي او په پای کې به دغه نا قانونه ډلې مجبورې کړي چې د طالبانو سره یو ځای شي؟ مرستیال وزیر وویل د ملي اردو او ملي پولیسو لوړ پوړي مسولین د ناقانونه وسله والو ډلو سره اړیکې نه لري. زه غواړم په دې وپوهیږم چې د تاسو د نوموړی سره موافق یاست؟

**لوی پاسوال منګل:** لومړی تر هر څه د مخه زه باید و وایم چې نا قانونه وسله واله ډلې د هیواد په ټولو برخو کې شته او په هرهغوی کار لا هم دوام لری. کومې شمیرې چې موږ تاسو ته در کړي هغه لومړنې دي موږ د دغو شمیرو په نهایي کولو باندې کار کوو او بیا موږ په هغو باندې پریکړه کوو. لکه چې موږ وکولای شو تر ۳۰۰ زیاتې نا قانونه ډلې له منځه یوسو زه فکر کوم دا به هیڅ ډول منفی اغیز د امنیت په حالت باندې و نه لري. د دغو نا قانونه ډلو ډیری د نشه یي توکو قاچاق او منظم جرمونو مرسته کوي. په هر صورت دښمن پیاوړي کوي او په پای کې هیواد ته نا امني راوړي. موږ نن له یوې ورځې تر بلې په دې پروسه کې پرمختګ کوو او زموږ پرمختګ به داوم ولري او زه فکر کوم موږ به له هیڅ ډول کومې سترې ستونزې سره د دغې پروسې په بهیر کې مخامخ نه شو. له دې خبرې څخه زما مقصد چې مسوولین د ناقانونه ډلو سره اړیکې نه لري دا دي چې امنیتي اداری تر یو ځانګړی دولتی چوکاټ لاندې کار کوي. دغه اداري هیڅ یو کوم ځانګړی ارګان پورې اړه نه لري او تر دولت لاندې کار کوي. دغه کوم دولتي سیستم چې موږ لرو د ټولو له خوا یې درناوي کیږي. زموږ افسر، سرتیری او یا کوم ساتنمن د قانون په وړاندې د پوښتنې وړ دی نه د بل هیچا په وړاندې. سیستم اوس په ځای دی او موږ یې ورځې تر بلې پراختیا ورکوو.

**کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی مرستیال:** ایا پلی کول به بې ثباته کوونکی وي؟ زه فکر کوم، جنرال دې پوښتنې ته ځواب ورکړ خو اجازه را کړئ یو څه نور فکر ور اضافه کړم. زما په یاد دې چې په ۱۳۸۳ کې ډیرو خلکو هم په دولت کې د ننه او هم له دولت څخه بهر ویل چې دې دی ار به بې ثباته کوونکی وی، موږ نه شو کولای سرته یې ورسوو. په ۱۳۸۳ کې د همدغو خلکو ډیر شمیر ویل چې د درندو وسلو کنترول، موږ لـه نـا دولتـي فعالینو څخه نـه شو اخیستي، دا بـه بـې ثباتـه کوونکی. پـه ۱۳۸۴ کې خلکو ویل چې نه شي کولای د ډایاک کوم پروګرام د پارلمان کاندیدانو لپاره شتون لری دا بـه بـې ثباته کوونکی وي او په ورته توګه خبره د مهماتو سره وه، د شخصي امنیتي کمپنیو سره، او د کورنیو چارو د وزارت د اصلاحاتو سره. او په پای کې د قانون پلی کول هیڅ کله بې ثباته کوونکی نه ده برعکس سوله او ثبات باید په عدالت ولاړ وي.

**راډیو آزادی:** تاسو یادونه وکړه چې د ډایاک د پلی کولو په مهال د چیلنجونو سره مخامخ وي، آیا چیلنجونه په حکومت کې د ننه د هغو کسانو چې د ناقانونه وسله والو ډلو سره د تړاو یا د نورو چیلنجونو لـه املـه دي، موږ غواړو پوه شو چې چیلنجونه کوم دی. زما بله پوښتنه له ښاغلی منګل څخه ده، تاسو وویل چې تر اوسه پورې د ناقانونه وسله والو ډلو شمیر د شلو زرو ډلو تر منځ دی، درې کاله وړاندې هم ورته شمیر اعلان شوی وو. د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې یوازې ۳۰۰ نا قانونه ډلې منحل شوي دي. تاسو څه فکر کوئ چې د پاتې وسله والو ډلو انحلال ته څومره وخت اړتیا ده؟

**لوی پاسوال منګل:** هغه شمیرې چې ما تاسو ته وړاندې کړې هغه نوی نه دي او لا هم ارزونو تـه اړتیا لـري، چې یقیني شي چې دا شمیرنې دقیقې دي. دا پروسه په وخت پورې نه ده تړلې، موږ لا هم وخت لرو، موږ هر کال ښې لاس ته راوړنې لرو، هغه شمیرې چې ما تاسو ته در کړې په هغو کې کوچنۍ ډلې هم شاملې دي. بلـه خبره دا ده، هغه شمیرې چې تاسو وړاندې کړې هغه زړې دي هڅې رواني دي چې دا پروسه پلې شي. په هغه غونډه کې چې په جاپان کې ترسره شوه، ژمنه وشوه چې دا پروسه به د ۱۳۹۰ یا ۲۰۱۱ کلونو تر پایه بشپړه شي.

**کرستوفر الکساندر د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی مرستیال:** په یو لحاظ د ډایاک بهیر هیڅکله پای ته نه رسیږي. هیڅوک داسې نه شي انګیرلی چې په افغانستان کې ناقانونه وسله والې ډلې به صفر ته ورسیږي. که چیرې تاسې وسله والې ډلې په یو هیواد کې صفر ته ورسوئ نو تاسې به د پولس ځواک اړتیا و نه لري، تاسو به امنیت ته اړ نه وي، خو همیشه بـه تر یو حده جنایت کارانه فعالیت وي. دلتـه ننګونـه دا ده چې دغه ستونزه کنترول شي او د اداري لاندې راشي. پـه نـور مـال ډول قانون پلـی شـي او جنایت تـر ننګونـې لاندې راشي، نه دا چې ملي امنیت تر ننګونې لاندې وي او لـه تاسو ټولو څخه غواړم چې ډیر زیات د دغو ۱۸۰۰ او ۲۰۰۰ شمیرو ته دومره اهمیت ور نه کړئ، خو موږ دغه شمیر د خپلو ارقامو پـه زیرمـه کـې لرو، خو زموږ هیڅ یو به په دې باوري نه دي چې لا تر اوسه هم دومره ډیرې ډلې د هیواد پـه کچـه فعالې دي او ډیری یې دا احساس کوي چې دغه شمیره تر دې ښکته ده، د غیر قانوني وسله والو ډلو ستونزه باید تر کنترول لاندې راشي، که دا په طبیعي توګه د خپل ځانی انحلال او یـا هم د حکومت د هڅو پـه نتیجـه کـې وي چې تر

اوسه ۳۰۰ ډلي له منځه تللي دي. موږ په دې ټينګار کوو چي د اړ باسلو او په زور د عملي کولو دغه پروسه ګړندی شي. دا چي د دې حدود چيرته دي: دولت بايد ددې توان ولری څو چي خپل لومړيتوبونه و ټاکي چي کوم مهمي ډلي بايد تر ګذار لاندې راشي. حکومت بايد د دې ظرفيت ولری چي هغو ځايونو ته ورشي چي په لرې واټن کي دي او هلته بايد په اغيزمن ډول اقدام وکړي، دا د يو داسي حکومت لپاره ستونزمنه ده چي په مقابل کي شورشيان وي او د يوې داسي ترهګرۍ سره مخ وي په کومه پيمانه چي په افغانستان کي دغه حالت د ياغيتوب ګورو. حکومت اداري بايد په ښه توګه رهبري شي او د سپلين او ښه روزنه ولري. او موږ په دې پوهيږو چي ځيني وختونه د حکومت چارواکي په رسمي توګه د کوم ګروپ سره نيغ په نيغه تړاو و نه لري خو دغه ګرپ کيدالی شي د هغه چا څخه وي چي په جهاد کي جنګيدلی وي او د يو تنظيم سره يې کار کړي او دې سره دا ننګونه لا هم پيچلي کيږي. نو په دې ډول اړباسل آسانه کار نه دی، خو موږ د ۴- ۶ مياشتو په جريان کي د حکومت ډير جدي نوښتونه وليدل چي د ډاياګ د بهير د لاندې ترسره شول چي پخوا مو هيڅکله نه وو ليدلي چي د ډاياګ د بهير د لاندې ترسره شول چي پخوا مو هيڅکله نه وو ليدلي. او کله چي جنرال منګل د دې رپوټ ورکوی چي د تيرو دوو مياشتو په موده کي ۹۰۰ ډول ډول وسلي را ټولي او ډيری ډلي له منځه وړل شوي نو دا څرګندوي چي دلته يو خوځښت او تحرک موجود دی. هر څومره چي ډير اړباسل او تعميل وي نو هغه وخت به خوځښت هم زيات وي.

**وياند:** تاسو ټولو څخه ډيره مننه.